AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

صمد افغان

۰۱/۰۸/۲۰۱۲

# ولسي جرګه د فرمان د تطبیق په وړاندې لوی خنډ!

د تیرې پنچشنبې (26-07-2012) په ورځ ولسمشر حامدکرزي یو فرمان صادر کړ، چې پکې وزارتونو، مستقل ریاستونو او یو شمیر نورو ادارو ته سپارښتنې شوې وې، د ولسمشر فرمان د ولسي جرګې په ګډون ټول ولس په دوه برخو وویشه، یو شمیر اندیښنه لري، چې ولې دا فرمان مخکې نه صادرېده؟ بله برخه یې بیا د فرمان صادرېدلو ننګه او ملاتړ کوي، د شننونکو په اند که ولسمشر دا ډول نور فرمانونه هم صادر کړي هیڅ ګټه به و نلري، ترڅو چې خپله د قانون جوړونکي قووې پر سر کلک نظارت ونشي، د شنونکو په اند چې د ولسي جرګې یو شمیر غړي د ځمکو په غصب، اداري فساد، کمیشنکارۍ، جعل کارۍ او قانون ماتېدو کې لاس لري، دوی په حکومت کې بل حکومت جوړ کړی، دوی ټولو ادارو کې لاسوهنه کوي او حتی د غټ جرم لرونکي بندیان خلاصوي، د وزارتونو، مستقلو ریاستونو، ولایاتونو او ادارو څخه محرم اسناد وباسي، یو شمیر یې بیا امنیتي ارګانونو مسولینو ته هدایاتونه ورکوي چې څوک بندي او څوک خلاص کړي، دوی په هره لار غواړي خپلو شومو هدفونو ته ځانونه ورسوي او که څوک یې مخه ډب کوي بیا د دوی له لوري ورته څاګانې کېندل کیږي، دوی وایې؛ چې د ولسي او مشرانو جرګې یو شمیر غړي د مامورینو په تقررۍ کې لاس لري، ډیری وطندوسته مامورین له دندو ګوښه کوي او پرځای یې د خپلې خوښې خلک مقرروي، د ولسي او مشرانو جرګو غړي ساعتونه په ادارو کې له مسوولینو سره ناست وی، دوی له قراردادیانو څخه امکانات ترلاسه کوي او بیا بهرنی سفرونه کوي، موټرې اخلي او کورونه جوړوي.شنونکي وایي که په ذکر شوي نقطو باندې جدي غور ونشي، د شورا غړي د لوړومقاماتو ذهنیتونه خرابوي او ستونزې لا ډېروي، د پښتو یو مشهور متل دی چې وایي (حقیقت چې رسیږي دروا‌غو به کلي نړولې وي)، نو د دې ګروپونو جوړښت باید مات شي او له منځه یوړل شي.د همدې شورا یو شمیر غړي ټوله ورځ په تلویزني بحثونو کې ناست وي، هر تلویزیون چینل چې ګورئ دوی به پکې ناست وي او د خپلو افکارو اظهار به کوي، دوی د هېواد د ودانۍ انځور برعکس اخیستی، دوی هېواد او په هېواد کې د روانو چارو څخه ناخوښي ښایي او وایي چې هېواد مو ډېر خراب دی، اصلي خبر دلته ده، چې هېواد په هغه کچه ندی خراب لکه څومره یې چې دوی خراب او کنډواله معرفي کوي، دوی تر اوسه صحیح تحلیل ندی کړی او نه ورسره داسې کومه معقول دلیل شته چې ووایي کومې لارې خوښې کړو ترڅو هدف تر لاسه شي،همدوی دي چې د مخدره توکو په قچاق کې لاس لري، ډېرې قوي سلاح له نورو هېوادونو څخه دلته راوړي، په اختطافونو کې لاس لري، بندیان خلاصوي او داسې نورې خبرې دې، چې باید نوروړته توجهه وشي، همدوی دي، چې د ورځې لخوا په تلویزنونو کې مساحبې کوي، د شپې لخوا د شراب خورۍ په محافلو کې ګډون کوي په هر محفل چې د کوم قراردادي او یا تجار لخوا دوی ته جوړیږي به لکونو افغانۍ لګښت پرې کیږي، دا لګښت تاجران د وکیلانو د خوشحاله ساتلو لپاره کوي، خو ترشاه یې نورې خبرې هم موجود وي، چې سبا همداوکیلان له هغه تاجرانو تر شاه ودریږي کوم چې ورته دا ډول پروګرامونه جوړوي، اوس راځئ خپله قضاوت وکړو چې وکیلان د شپې لخوا په داسې محافلو کې ګډون کوي او د ورځې لخوا د تلویزنونو په پردو عبثې خبرې کوي، دوی کار کله کوي او کله د خپلو خلکو ستونزې اوري؟که ولسمشر ریښتا هم د دې فرمان تطبیق غواړي نو لومړی دی حقیقت ته ځان ورسوي، له مصلیحتونو څخه دې تېر شي، جدي قدم دې واخلي پوره ډاډمن یم چې ټول ولس به د ولسمشر څخه یو ځل بیا خپل کلک ملاتړ اعلان کړي .


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ